

سید نورالله جان

دکور نیو چارو و زارت
دسیاسی چارو لوی ریاست
دخپرونو لوی آمریت

PROPERTY OF
ACKU
6469

جونګړی

دسمونمل نورالله ځل
دشعرو نوسجموعه

مهتمم: سمونیار نورالدین کاکړ

کال ۱۳۶۸

سریزه

شعر دهنر دښکلی اور نگینی نړ ی داغیز ناکو تو کوله ډلی څخه دی،چی کولی شی د طبیعت دښکلاوتو لنیز تحرك دهیندار ی پـــه څیر د ټولنی په پر مختګ، لوری ورکو لو او دژوند دلاښکلی کو لو په پرو سه کی درو ند رو لړ په غاړه واخلی ،دانو بیا دشعر په کیفیت اودشاعر په بدیعی توان پور ی اړه لری ، چی څو مره کو لی شی، طبیعت،ټولنه او ژو ند په وا قعی اور یا لستیکه بڼه مجسم او خلکو ته په ښکلی قالب کی تصو یـــر کړی.

په عمو می ډول خو هنر مندان اوله هغی جملی څخه شا عر او لیکوال دټولنی خوځو نکی قشـــرجوړوی، چی په خپلو آثار او لیکنو سره دټو لنی پراخی پرګنی دخپلی ایډیا تحقق ته رابو لی، یادژوند په پیچلو پړاوونو کی د هغوی لاس نیسی اوسمه لاره ور ښیی، دژوند له کړاوونو څخه دخلا صو ن لاری چاری ور زده کوی ،همدا دلیل دی چی دټو لنیز و پد ید واو په یوه خاصه زمانی مقطع کی دپیښودقیق او منظم انعکاس دشاعر تا ریخی رسالت او دویښ و جدان پر ځای مکلفیت څر ګندوی ، چی داتاریخی رسالت هم دشرایطو اوپه ټو لنه کی دمو جوده روابطو دتسلط سره اړیکی لری ، چی د شاعر د موقف اوټو لنیز و خصو صیا تو سره اړه پیداکو ی. یعنی که شا عـــر دمتر قی اوپر مختلو نکو افکارواوقواو او دهغو ی دحقوقو مدا فـع وی، څر ګنده ده،چی لیکنه اواثر یی دپر مختلو نکو مفکورو خپرونکی اوتعمیموو نکی دی ، او د خلکـودسترو پرګنو دهیلو او غو ښتنـو بیا نوو نکی.

په او سینو شرایطو کی چی ټولانقلاب زمونږ دټو لنی دعینی شرایطو

دغو ښتنې سره سم بنیادی تحولات را منځته کړل، او په ګران هیواد کې دنو ی او عادلانه جوړ ښت په آرمان پرمخ روان دی ، هڅه کوی، چې دخلکو د آرا می او سو کا لی شرایط ټینګ کړی، هر شا عـــر اولیکوال چې دخلکو اوپر ګنو پـه درد خوږ من وی اودنو یواو پر مختلو نکو قو تونو یاراو مدد ګار، نو هرو مرو به دپر ګنو دهو ساینې اوسو کالې له پاره قلم چلو ی. په خپلو بدیعی آثارو کې به درنځیدلی انسان دخلا صون هیلی ، آرما نونه اولاری چاری په ځرګنده ،روښانه اوښکلی بڼه انځوروی ،ور سره ورسره به دستمګرانو نا خوا لـی ظلمو نه او بی رحمی په زغرده سره بیان او ځر ګندوی

دکور نیو چارو وزارت په قطعا تـواوجزو تامونوکی رسا لتمند شا- ګران اولیکو الان که له یو ی خوادخلکو اووطن ددښمنا نو سره په تودو مور چلو ز وکی په میړا نه اوغیرت له ځانه تلپا تی حما ســی هستو ی ، نو له بلی خوا یی دقلم په ژبه هم دمکار او خو نخواردښمن دنینرنګو نواو جنا یتو نو په افشا او رسوا کو لو کی ډیل نه دی کړی همدا اوس دځار ندوی اتل منسو-بین د ننګر هار په ګر مو سنګرو ونو کی چې دنړ یوا ل امپـر یا- لیزم او دسیمی د ارتجاع دلا ســ پوځو دبی رحمانه حملو لاندی داتل اوسر ښندونکی وسله وال پو ځ په لیکو ک ی داسی حماسی او کار نامی په یاد ګار پر یښی، چـــی نه یوازی زموږ دویاړ او افتخار سبب ګر ځیدلی ، بلکی کلو نه کلو نه به زموږ دتاریخ په پا نو کی پاتی او راتلو نکی نسلو نه به یی هم په ویاړ او افتخار ســـــره در ناوی وکړی.

دااثر (جونګړی) هم د ځار ندوی دمنسو بینو دهنر ی او اد بی هڅو په لړ کی یوه ښکلی ګیډی ده ،چې دکور نیو چارو و زارت د

نشرا تو دادار ی په هڅـــه او د متعهد لیکوال ځل‌صاحب‌په همت له چا په راوځی. مونږ ددی اداری کار او زیار ستا یو، او دا ثـــر لیکوال ته‌دده دلاګتو رو هنر ی‌اوادبی بر یو هیله کوو. هیله مندیو، چی‌زمونږ شا عران زمونږ په سر–لوړی او میړ نی هیواد کی دسولی ورور ی او انق لابی بد لو نو نو انګازی پور ته کړی،او په دغـــه انقلابی تحولا تو کی‌د مشعلدارانو په ځیر له پخوا زیات ستر اوځلیدو ذکی آثار هسـ ت‌او وړاند ی‌کړی.

بر ید جنرال اسد الله پیام د
دسیاسی چارو رئیس

د(ځل)ځلیدونکی شعری جونګړی

دکور نیو چارو وزارت دخپرونودآمر یت لپاره د خو بنسی ځای‌دی چی‌دځا ر ندو ی‌دمنسو بینو دیوه‌روزو نکی ، استاد او شا عربښاغلی سمو نمل نور الله ځل دشعرو ټودغه مجمو عه دځور دپر تمیـــن انقلاب دیوو لسمی کا لیزی پـــه‌ویاړ چاپ او خپر وی.

سمو نمل سید نور الله ځل نه‌یواز ی دا چی ډپښتو ژبی یوتکړه شاعر اووینا‌وال دی، بلکی دد ی‌په‌ځنګ کی هغه اوږده ګلونه د وطن بچی دځار ندوی دسپیځلی مسلك‌لپاره روز لی دی. هغه د هیواد د ځارندوی پرګن شمیر منسو بینواو افسرا نو داستا دی‌حق لر ی اونو مو ږی ته‌دایو ستر افتخاردی‌چی په صدا قت سره یی‌په دغـــه لارکی نه ستړی‌کیدونکی هلی ځلی‌کړی دی. دغه هلی ځلی به‌دځار ـ ندوی دښوو نی او روز نی پـــه‌بهیر کی نه هیریدونکی‌مقام ولری. برسیره له‌دی چی‌ځل‌صاحب استاددی خوږ ژبـــی شا عر هـــم‌دی ډیر کلو نه کیږی چی دهغه‌د شعرو نو انګا زی خپر یږ ی‌له‌ډیر وخت را هسیی دهغه شعرو نـــه‌زموږ دهیواد په مطبو عاتو کی چاپ اوخپر یږی،خو تراوسه پوری یی‌دشعرو نو کومه ځانګړ ی مجموعه لانه‌وه چاپ شوی.

دسیدنور الله ځل په شعرو نوکی اود شعر په دغه مجمو عه کی یی دمو ضو ع‌او محتوا له پلو ه بیلابیل په‌ډه پور ی مسا یـــل ځای شوی دی. دوطن د ننګ او غیرت اوله وطن څخه دد فاع‌ولولی په‌کی په جو ته تو ګه څپی وهی. هغه دوطن دمینی له دغو څپوڅخه

بنه او پیاوړ ی حماسی، وطنـــی شعرو نه جوړ کړی دی لکه:

داد کنشکا هیواد
داد ستر یما کور د ی
ډیرې حما سی لر ی
دامی دبابا کوردی...

دغه راز دزیار کښې انســـان دتناکو لا سو نو ستا یل د هـــــغه دشاعری یوه بله برخه جوړوی او هغه وایی :

داځوك دی چی خوالی یی پرتندی نری نری دی
زیار کښې دی خواریکښې دی چی بنایست ددی نړی دی
ببر ببر سرونه
داخیر ی گر یوانو نه
پو لی پو لی لاسو نه

کړی بل ته محل جوړ خو خپله برخه یی کوډی دی...

دځار ندوی داکا ډمی د غـــــه پخوانی استاد د ځار ندوی داتلانو او وطنپالو خد متگار رانو ستا ینی ته هم دخپل شعر زیاته برخه ځانگړی کړی ده.

ځار ندوی د ی خد متگار دزیارکښانو
ځار ندوی دی طر فد ار د زیارکښانو

یا دا چی: دوطن پولی چی ساتی هغه سد رباز یمه زه
دغرو نو باز یمه زه

دشاعر له یو شمیر شعرو نـــوځخه په زړه پوری سند ری هـــم جوړی شوی دی چی دځار ندوی انسامبل بیلا بیلو سندر غا ړ و، دغه شعرو نه، ترانی او غنا یـــی زمزمی سند ریز ی کړی دی.

گلی ستاد زلفو ټال ،دا به کله کله وی
دا زما پریشانه خیال، دابه کله کله وی

نو په دی تو گه‌ددا سی یو شعراو دځار ندوی دیود اسی افسراو
ښوونکی دشعرو نو لو مړ نـــی مجموعی چاپ د ځو ار خو نو لـه
پلوه دپا ملرنی وړ یو کا رگنـــل کیدای شی. لومړی داچی په‌دغه
ممجمو عه کی چی د(جونګړ ی) په نوم شاعر دچاپ لپاره چمتو کړی
ده، دوطن شعر ی حماسی اړخ‌ډیرزیات دی اود هغه دانقلا بی شاعری
غوره بیلګی په کی را ټولی شوی‌دی داکار د ځارندوی د خلـکـود
دغوخد متګار انو د زیا تی‌پاملرنی‌او دلچسپی وړګر ځیدلی شی له
بلی خوا ځرنګه چی ښا غلی شاعرله‌اوږدو کلو نو څخه ښه شاعری
کړی ده نو لازمه بر ینښیده لـه‌چی‌دشاعر ز یات‌شمیر بیلګی یی‌دشعر
دمیـنه والـو او پر تـیره بـیـادځـار ندو ی دمنسـو بینـو
لاسو ته ور سیـــن ی . مـــوږمحترم شاعر سمونمل نور الله‌ځل
ته‌هم دښوو نی او روز نی پـــه‌مقدس کار کی او هم دشعر او
شاعر ی په صمیمی او عا طفی هڅو کی لازیات بر یا لیتو بو نه
غواړ و .

سمونیار بسم الله حقمـــل
دکور نیو چارو وزارت دخپرونو
عمو می آمر

— و —

سواد

نا پو هی لو یه بلا ده بی سواده‌نابینا دی
پوهه شمعه ده دلاری په سواد جهان رڼادی
پوه ولاړی وی په خد مت کـی‌دجملو وانسا نا نو
(ناپوه ځان لره بلادی هم جهان‌لره بلادی)

سواد زده کړی وطنوالو دادنوی‌ژوند پیغام دی
بی سواده غو لید لی بند په‌دام کی دهرچادی
سړی خلاص کړی‌له احتیاجه‌پوهه‌دغسی نعمت دی
ناپوه تل په طمعه ناست یادکاکایاد ما د ی
دسواد لاری ته یَی بو له«ځله» پام کوه چپ نه‌شی
چی په کلیو او با ند و کی پاتی‌یولا نا بینا دی

سپین‌کلی ۲۹ر۱ر ۱۳٦۲

دزړه طـــوفـــان

لکه آمو د ستر دریاب پشانته
زموږ هیواد داسی ولسو نه لری
ظاهر آرام ښکاری بهیر دژوندون
دننه زړه کی طو فا نو نه لری

حیر تا ن ۲۳ دلو ۱۳٦٥

پسرلی ته

اد مشکینو ز الفو
او تور اوربل
پر کښ لیچو نو
کتار شوی گلان
په‌سر درو کی
ادزر کو گډا

دسرو غاټولو قا لینی فرشو نه
په شینیلیو باندی
روانی او به
په تازه‌گی کی دژوند ونخوندونه
داټول دی ستاوی !
ستا له جنته راوتلی مو سم
دخو شبو یی د کا روان
ځولی ځولی گلونو
داپه عطرو نو لمبید لی موسم
په باغ کی جوړ ی میلی،
دبورا گا نو اتن
یاپه گودر کی په منگیو ویشتل ،
داټول دی ستاوی
داټول دی ستاوی !!
چی دشبنم په څا څکو
مینځی غو تی مخو نه
ور ته نسیم دسهار
پخپلو نر مر گو تو
دژوند نغمه غږوی
چی بلبلان الو ځی
هلته پر سرو گلو نو
په منډو منډو ځغلی
پیغله کو چی وړو ور کیا نوپسی
ور ته شپو نکی غږ وی

له سوزه ډکه شپیلی

هلته پر هسکو غرو نو

دژوند دارنګ او دا خو ند

دا ټول دی ستاوی همستا!!

دا ټول دی ستاوی همستا!!

دجنګ ځینی امان راکړه

چی زمانی دی جلاکړی مو نږنه

زمونږ نه لیرې اوسی

اولا جدا یو سره

پاتی دی اې نورو ته

موږ ته!

خپل هماغه عزیزان را کړه

سیدنور محمد شاه مینـــــه

۱۳٦٥ر۱۲ر۲٤

دپراګ نندارې

دښکلا وو نندارې وې
دژوند ون بهیر روان و
خوا شینې پکې هیڅ نه وه
ښه خو شحاله زوړاو ځوانو
لوی قصرو نه ووجوړ شوی
دادنو ی صنعت کارو
زوړ تاریخ هلته ژو ندی و
دانسان دلاس یاد ګار و
لوی واړه وو په تلا ش کې
ښه ډاډه هلته ژوندون و
وار خطا هلته څوك نه وو
په ژوندون کې یو سمون و
شوی رایاد ځما وطنه
ته دوینو په دریاب کې
زه لاهو کړمه وطنه
ستا غمو نو په سیلاب کې
در ته پیښې بدی ورځې
دزغملو خدا یې ونه دی

ستاد نو م سره هیواده

دمنلو خدا پرو ندی

یابه جوړ کړو تاوطنه

ددنیا ملکو پشان ته

یابه خاوری شو ستا پښو کی

پیغور نه پریږدو خپل خانته

ثور ۱۳٦٥ پراګ چکو سلواکیا

جونگړی

ورانو جو نگړر ته رنارائی
داسی آواز غوږ ته ځمارائی
چی مرگانی آرمان ته ژوندورکوی
دلته دسو لی مسیحا را ځی
ساړه جومات ورانی‌دیری‌ته‌یوځل
داغیر تی ولسو نه بیا را ځی
په‌اتحاد به کړاوو نه‌ورك شی
ځله! هردرد ته به دوا را ځی

مزار شر یف ۲۵ جدی ۱۳٦٦

وطنی سولـــه

پدی وطن کی سو له زوړ اوځوان‌زمونږه غواړی
آرام سو کاله‌ژوند ټول ماشومان زمونږه غواړی
دااوښکی فر یادو نه
ساړه‌ـساړه آهونه
لمبی او سره اورو نه
راځی چی دا خا مو ش کړود اوجدان زمونږه غواړی .....
راټول شی افغا نانو
ددی وطن بچیانو
شپنو او بز گرانو
داشاړ ی کرو ندی خپل بزگران‌زمونږه غواړی .....
پخپلو کی پخلا شو
پردو ځینی جداشو
یوخو له یوه وینا شو
دوخت دا تقا ضا ده دازما ن‌زمونږه غواړی . .....

کابل جدی ۱۳۶۵

دعمل برکت

دقسمت قلفو نه‌واز کړه پـــه‌تدبیر
په‌قرآن کی یی پوره شته د ی تفسیر
بی عمله چی گنجو نه ځانتـــه‌غواړی
راته ښکار ی ستا فکرونه هواگیر
بی‌تلاشته چی د ژوند ســمـــــول‌غواړی
بس تړی خپل پښی‌لا سو نه‌په‌ځنځیر
هغه څوك چی تل دبل نه مرسته‌غواړی
تل مدام به په احتیاج کی و ی اسیر
ځله !ژوند خو حر کـــــت ـ مبارزه ده
دامید تا بلـــو کـــی دغه کړه‌تصو یر

۲۱ جدی ۱۳٦۵ مزار شریف

دمزار گل سـرخ

که یو ځل بیادلته بهار راشی
نوی ژوندون به په گلزار راشی
شی به را پور ته ریژ ید لی گلان
ورانی باغچی ته به مالیار راشی
په سره اور تون کی به غاټول وویني
چی گل سر خ ته دمزار را شی
پسرلیه ورشه دکیږدی خوا ته
چی دښکلا هلته هموار راشـــی
ماته دژوند سندری و غـــږوه
چی پر ی تسل دزړه بیمارراشی
لاپه خزان کی پسر لی وی ور ته
دچا ترځنگه چه نگار را شـــی
ځل به خپل ځان کړی ورته شنه لوخړه
که په نظریی مخ دیار را شـــی
مزار شریف ۱۸ دلو ۱۳٦٥

ددوستی پوله

ډیر نړدی را ته ښکاره شـــول هیوادونه
نه په منځ کی څه جنجال و نـه جنګو نه
ددوستی پو له ودانه وه په منځ کـــی
یو تر بله سره نا ست وولکـه ورونه
دختیځ آلمان څـــارو نکـــواوچکانو
پخپل منځ کی یی ور کـــــړی وولاسو نه
نه په منځ کی ډار مو جودوواونه کرکـــه
نه چیچل یوه پو څی بل تـــــه غاښو نه
خپله دنده هر چا سر تـــــه رسو له
دانسان هلته کید ل احتـــرامـــو نه
نه ټبر ،ببر کیدل څوك یو اوبل تـــــه
نه کول چاد تیر ی په بـــــل گوا ښو نه
چی نه جنك وی او نه کر کهای هیواده
در ته غواړی (څل) دسو لی سرحدونه

بوچی دارددموکراتیك المان اوچکوسلواکیا سر حدی پوله

۳۰ ثور ۱۳٦۵

ددرمـان په طمعه

لکه چی مړاوی وی فصلو نه د باران په طمعه
داسی دیدن ته تړی نا سست یمدجانان په طمعه
څما دخیر ی گر یوا نه ایآرمانیژوند و نـــه
داچی ژوندی یم خو لا یمهدآرمانپه طمعه
راځه دمینی مسا فره چی لارلنډهکړو نور
په نیمه لار کی به خو نا سستیودکاروان په طمعه
هغه ده راغله دژوندون اوبه پهلاس را درومی
طبیبه نور به دی کښینه نمددرمانپه طمعه
(څل) به دزړه په وینو لیکیستادمینی غزل
پدی سودا کی په هیڅ نه شی دتاوان په طمعه

کار لیو ی واری ـچکو سلواکیا۲۸ ثور ۱۳٦۵

اوږده مزلونه

ماپه تر خو کی هم خواږه‌ولیدل
چی یو ځل تارا ته کاږه و لیدل
ځانګی ستاسیوری ته‌به‌اوس ده شم
خیر که مز لو نه می اوږده‌ولیدل
چی وی‌دژوند او به روانی پکـی
دښا پیرو باغ کی‌دی څه و لیـدل
تاویل سباد ر ځنی‌ځم په سفر
دشپی خو بو نه می‌درانه‌ولیدل
دمینی پیتی به‌دی وړم په لیمـو
یم ملا مت که می ترخه و لیـــدل
دمینی راز راته ښکاره شو پکی
څکه می زړه ته ستا په زړه‌ولیدل

دسانسو سی سنا توریم ـ چکوسلواکیا ۳ ثور ۱۳٦۵

و طنه !

ستاله اغزی- اغزی گلو نولوگی
ستاله هر کانې او لعلو نوقربان
ستاهره لویشت دتن توتهده څما
ستاله جو نګړو اوقصرونوقربان
ستاهر ی‌لور نه‌قهر مان و طنـه
دملا لی کیسی هیر یږ ی کلـــه
وینی چی‌ستاپه لارکی وڅخیږی
مدام به سری وی نو سړ یږی‌کله
وطنه ویاړه په پتمنو بچـــــو
دمفت خورانو لاس یی لنډ کړدونه
ستا په‌ابرویی شول نذرانه سرونه
دظالما نولاس‌یی لنډ کړ در نه

کابل سنبله ۱۳۵۷

د توری شرنګ

څلید لی چی سنګر ته په غورځنګ دی
نو غلیم ور ته ور کړی ځکـــه ځنګ دی
دغیرت شمله یی هسکه شـــوه جهان کی
تابع کړی چی اورنګ او هـــم فرنګ دی
سر او مال یی استقلال با نـدی ور کړی
دافغان سرتل فـدا پـه نـــام او ننګ دی
سری دو لی شی په انګر کـــی ور نه پاتی
شاه زلموته بس کا فی آو ازد جنګ دی
افغانی میندی هغوی تـه زامـن وایی
شپه اوورځ یی چی سبق دتوری شرنګ دی
دافق المن چی سره پـــه هـــرما بنام وی
بل څه نه دی دشهید دو ینـــو رنګ دی
دشهید په وینو لاس د نـــاوی سره شول
کوم ناپوه به خیال کوی گو نه دی اتر نګ دی
دوطن نه یی قر با ن کـــ ی دی سرو نه
(څل) یی څکه هد یره کی ناست ملنګ دی

دجشن سیمه کابل ۲ سنبلـــه ۱۳۵۱

رنګینه تابلو

سحر دپسر لی وو سره ګلا نبه‌غوږ یدل
دکال نوی ځوانی وه ببلـــــلان‌به چغیدل
دلمر او له څیږ ه‌او چت غره کی‌رانښکاره وه
شروع وو سردرو کی دزر کا نوښیدل
هر خواته شنیلو با ندی او به‌رابهید لی
سوری زړه دلاله نه هم ځوخاخکی‌څښیدل
تابلو د طبعیت‌څو مره رنګینـــه‌نښکار یدله
بخرکی دښکلا چی هره خوا کـی‌ځلیدل.
دخیال په نیلی‌سپور وم خونامخاپه‌ټکنی شوم
باغچودتصور باندی می کا نـــی‌وریدل
تحریك دتکامل ابهار و خـــان‌سره راوړی
منزل ته دمقصو د څله !پکار دی‌رسیدل

۱۲ حمل ۱۳۵۲ کابل ،بر یکو .

د ر یا گلو نـه

یاره مړا وی شو ی له هرخـواگلو نه مه راوړه
جوړی دی با غچی کړه دتالاگلونه‌مه راوړه
چاپه اور بل کیښودل را مبیل‌اودچا مبیل گلان
چا در قیبا نو کړ ل په غاړه‌دامیل‌گلان
وکړه پخپله دبل چا گلونه مـه‌راوړه
یاره مړاوی شوی له هر خـــواگلو نه مه راوړه
بن دمحبت کی چی‌یی بو ټی‌ټوکیدلی‌وی
مینی شرافت نه چی یی پا نـــی‌راوتلی وی
همماغه گلان غواړم دریا گلو نه مه راوړه
یاره مړ اوی شوی له‌هرخواگلونه مه راوړه
خیر دی که اغز ی لری گلان ځمادباغ دی وی
پریږ ده چی تازه وی، را حت‌دهردماغ‌دی‌وی
ماته خپله یاره نا آشنـــا گلونه‌مه راوړه .
یاره مړاوی شوی ....

کابل ۲۸ دلو ۱۳۵۹

نوروزی سوغات

دیما اودسو ما کیسه شوه‌یاده
را چلیږه رارسیږه نو روز باده
شاړی دښتی دوطن به‌شی ګلونـه
بز ګرانو ور ته ښه تړ لی‌ملاده
داحساس مارغه می‌بیا په‌الوتوشو
رنګینی را پیدا شوی په فضاده
دوطن ویده دښتونه چی‌بیدارکړی
بس پکار ور ته همد غسی هواده
سره غاټول به په‌بید یاکی شی
راپورته
پری ښا یسته‌به‌شی‌د (ځل)ښکلی
هیواده

۲۵ حوت ۱۳۶۳ سپین کلی

چې ته نه وې

چې مستي هلته فضا کې ګډيدله
چې ځواني ور ته دپيغلـــــونځيدله
تود محفل کې دښکـــلا مسا بقي‌وي
هره ښکلي لکه شمعـــــه ځليدله
را زو نيا زو د مينـــــو اشاروکې
هره پيغله غو تې هلته غـــو ړيدله
هلته هر څه صد قه وو دښکـلانه
دنيا هلته بې ارزښته ښکاريدله
پدې دو مره خو شحا لي کې‌چې‌ته‌نه‌وې
پښتنه مينه مـــې ځکـــه ژړيدله
تور ټيکر ي ژيړ ه ځيره دې‌شوه‌رايادە
آسمان پاس او ځمکه لا ندې‌چوريدله
لکه غم هسې خو ښې کې راسره‌وای
داځوا نې به مې په‌اور نه‌سوزيدله
(ځل) لاو خته ملا مت وو ځان‌ګنډلې
ليونې مينه يې‌چې تاته‌پسخيـدله

کابل دجشن سيمه ۷سنبله ٥٤

دزړه نظر

یاره لیو نی کړهٔ کاڼه نظر
څنګه راته ګوری ته په‌څه‌نظر
مادستر ګو کور کی خپل میلمه کړلی
ته‌لار اته ګوری په‌تر خه نظر
خیردی که‌می‌ستر ګی رقیب‌وتړی
تاته وقف شویدی دزړه نظـر
پریږ ده چی‌دیارکوخه‌کی‌پوندشمه
داسودا می کړی په پا خه نظر
(څل) ته‌دی اغز ی دباغ ګلونه‌دی
ته چی ور ته ګوری په‌هرخه‌نظر

۱۸عقرب ٦٢ ۱۳

دمینی انگازی

دستر گو په جامو چی دی‌ولاړی‌دی خازی
مینو ش دمینی را غلل ستړی ستا تر درواز ی
دمینی قتل گاه کی وی ولاړقصاب‌دهجر
دزړه په‌وینو رنگ دی دمینـــوجنازی
دستر گو گناه نده که‌دی بنکلی‌مخ ته گوری
دننه دزړه کور کی‌دی د مینـــی انگازی
خندل دی در قیب سره هغومره‌راته سخت دی
لکه بیلی په چاقو شی دو جودنه‌ترازی
خیالو نه می چی تل ستاد زلفانوپه ټال زانگی
ترلیری ځایه تللی ستاد حسن‌آوازی
د(ځل) دزړه تسل آشنا یی تانه‌کله کیږی
هر څو که خو بان ډیر شی‌په‌دنیابی اندازی

سپین کلی ۱۲ سر طان ۱۳۵۱

غږ یبه مینه

ځما دګل پشانی یاره لیږی کیږی ولی
زه‌دی لاپانې ښکلو مه ته‌رپیږی ولی
دمخ ګلاب یی اوبومه زه دستر ګوپه‌نم
دسپهار باده غماز ګره پر ی‌لګیږی ولی
دګلو باغ کی چی ګلان در باندی‌رخه کوی
ګلی په ګلو کی معلو مه یی‌پټیږی ولی
غږیبه مینه ځما نه کړی دهو س‌قربانی
دخود غږ ضو په لمسون با ندی‌غولیږی ولی
دمینی اور به نود (ځل) زړ ګی‌ترځو سو ځوی
راځه مغرور ی نوره لیر ی نـه‌ځلیږی ولی

۲۲ حمل ۱۳۵۵

مست اتنونه

سره گلو نه ښکاری بیا په‌دښتوچمنو نو کی
بیا به شی قطار گلان پاس پـه‌اوربلو نو کی
بیا به دلاله دزړه زخمو نه‌ور ته‌وخا ندی
بیا به پیغلی ستړ ی شی‌په‌مستواتنو نو کی
بیابه دکیږدی پیغله دگلو امیـل‌جوړ کاندی
بیا به د بید یا گلا لـی پټه شی‌گلو نو کی
څنگ به لمند ار کمیس زړ گی ځان پوری غو ته‌کړی
مینه به څنگیږ ی بیا دز لفوتنابو نو کی
بیا به پسر لی پوره آرمان‌دآرمانجنو کړی
څله! ویده زړه دی ولی پرو ت‌دی‌آرما نو نو کی

حوت ٥٤ کابل

د سولې ترانه

سولې په وطن کې نیکمرغۍ موږ ته راوړي
خو ښې موږ ته راوړي ورورولي موږ ته اوړي
دسولې په ژوند و نکي ورورولي او پیوستون کي
دا خپل وطن ودان کړو ژوندون نوی به لون کي

زموږ ملي وحدت به خو شحالي موږ ته راوړي
سولې په وطن کې نیکمرغۍ موږ ته راوړي

راځي جوړي جرګې کړو ډیرو کې مرکې کړو
دخوږ وطن دپاره خبرې بیا پخې کړو

خبرې دوحدت به نو میا لي موږ ته راوړي
سولې په وطن کې نیکمرغۍ موږ ته راوړي

سارې شول جوماتونه ورانیږي موکور و نه
غوغا دیتیما نو بې مزې شول اخترونه

دوام ددې جګړې به پښیمانۍ موږ ته راوړي
سولې په وطن کې نیکمرغۍ موږ ته راوړي

سپین کلی ۷ قوس ۱۳۶۵

د سولی په خاطر

ورانیږی داوطن دورا نید لومخه‌یی ونیسی
سوزی په لمبود سوز ید لو مخه‌یی ونیسی
یو ورور اواره شو ـ بل شهیدشو په‌سنگر کی
دورور مردك نښلی ، دسکه‌ورورپه‌ټټر کی
ورور دورور قاتل شو ـ د وژلومخه یی ونیسی
سوزی په لمبود سوز ید لومخه‌یی ونیسی
ولی رانه شا پی دپلرو نـوکرو ندی شو لی.
ولی مو پیدا سره پخپلو کی کینی‌شو لی
ژاړی یتیمان دځور ید لو مخـه‌یی ونیسی
سوزی په لمبو دسوزیدلو مخه‌یـی‌ونیسی
څو پوری به مورد د خپل بچـی‌په‌قبر ژاړی
څو پوری به ناوی خپل نوم‌ورکی‌شهید غواړی
زخمی زړه نه دوینو څخید لومخه‌یی ونیسی
سوزی په‌لمبو دسوزیدلو مخه یـی‌ونیسی

سیدنور محمد شاه مینه قو س۱۳٦۵

بیر غه د افغا ن

څو چه داجهان وی نو به ته‌پکی‌وپیږی ـ څو مره ښه ښکار ی یږ ی
بیر غه دافغا ن

دلته هسکو غرو نو کی
لوړو ګړ نګو نو کی
دښتو چمنو نو کی
چك ـ چك په اټنو دوطنوا لوکی‌یادیږ ی ـ څو مره ښه ښکار یږی
بیر غه دافغان

داد عقا بانو کور
داد باتور ا نو کور
دادی دزمر یانو کور
دی دغیرت ځاله کی په‌وینوساتل‌کیږی ـ څو مره ښکار یـــږ ی
بیر غه دافغان

(ځل) دی تل او چت غواړی
ستا عزت اوپت غواړی
ستا شان اوشو کت غواړی
ته دآزادی سمبول زمونږه ډیرخوښیږ ی ـ څو مره ښه ښکار یږی
بیر غه دافغان

صنعتی بغلان

سلا مـو نــه

آشنا در تله می نشی سلا مونه‌درلیږم
تنکی تندی و هلی آرما نو نــه درلیږم
دزلفو په تالو کی تو له شپه‌چی‌زنگید لی
سهر ستړ ی، ستو ما نه خپل‌خیالو نه درلیږم
کوڅی دی دوصال راته نیو لــی‌غما زانو
پټ حال په اشارود زړه رازونه‌درلیږم
ځما لیو نی مینه یی چی څو مره‌ځورو لی
یاد گار به دبیلتون مات ځنځیرونه‌درلیږم
د(ځل) دمینی حال چی یاره‌ونه وایی چاته
تك شنه په خندا سرد زړه‌زخمونه در لیږم

۱۳۵۸ کابل

څارندوی

څار ندوی دی خد متکار دز یارکښانو
څار ندوی دی طر فدار د زیارکښانو
شپـــه او ورځ د وطنو الوآرام غواړی
نه اغادی ز ه با دارد زیـــــارکښانو
سم سیده به د قا نو ن په لیاره درومی
څار ندوی دی و فا دارد زیـارکښانو
نه مفت خوردی او نه طمعه کوی چاته
دی عاشق په کار او زیار د زیارکښانو
څله! مونږد زیار کښا نو په سنگرکی
امتحان ته یو تیـــار د زیـــارکښانو

کابل ۱۳٦٤

د مینې سمندر

مین زړه می لټو ی په کوم ګودرځوك
رغو ی چې زخمی زړو نه په‌نظرځوك
توره شپه به می دزړه هلـــــه‌سباشی
دوصال خبر چې راوړی ددلبـرځوك
درقیب جفا د چا کله هیـــــریزی
هیروی شی کله ز خـمد ځیګرځوك
چې دهجر په اور دلته کې‌ستی‌شی
څه سودا به‌زړه‌کی سا تی‌دمحشرځوك
دمقصود ګل به دهغه لاس تـه‌ورشی
په اغز و با ندې زخمی چې کړی‌ټهر څوك
ځله! کله پروا ګیر د مال اوسرو ی
چې لاهو کا ندی دمینی سمنـدرځوك

۲۳حمل ۱۳۵۵ صنعتی بغلان

د مینـی خـزانـه

راځه چی چیر ته کینو د کوم‌رودپه یوه غاړه
په منځ کی سره کیږدو دادزړه رازونه دواړه
دمینی خزانه به‌دی پیدا کړ ی‌کنه‌والو کی
راځه که یو ځل گوری داد زړه خونه ویجاړه
پیاله کی دلاله به سره شر اب‌داوښکو درکړم
په تال کی دسپو ږ می به بیازنګیږو سره دواړه
دستو رو پټ پټانی به زمونږمینه‌توده کړی
پټ،پټ به سره رغړو په شنیلوغاړه په غاړه
موسم دپسر لی کی ده ښکـلابر بنډه شوی
لیلی‌دګلو سیل ته په بید یاکـی‌ده ولاړه
راځه چی په راتلو دی دا ماحول‌شی ګلو نه
موسم دی دګلو نو اوس څو لی‌دګلو نغاړه
اغزی به می‌ګلان شی دامید پـه کړو نده کی
لیلی که یو ځل را شی همابغسی‌شاړه واړه

صنعتی بغلان ۱۳۵۵

دامید ونوغوتۀ-ی

پریږدی چی وغورې یږ ی
پریږدی چی وخند یږی
سړو بادو وهلی
دکنګل ژمی زړه‌نه
دټیارو شپود طو فان
دولو لو دبهیر
دازخمی شوی غو تی
دسرو ګلو نو په لار
په امید ورا غلی
سړو بادو وهلی
پدی اغز نه لیاره
څی په سکر وټو خیژی
کری دوینو ګلان
اومخ په‌وړا ندی درومی
ستړی ستو ما نه به‌وی
لیاره اوږده ده
کږ لیچو نه لری

دیره نر ی لیاره ده
اوگر نگو نه لری
خوده روانه غو تی
دستر منزل په لوری
آخر به ور سیږی
دلمر رو بنا نه بنار ته
هما غه گرم بنار ته
بیا به هو سا شی
دابه ضرور رسیږی
پریږدی چی وغوږ یږی
پریږدی چی و خندیږی

سپین کلی ۲حمل ۱۳٦٤

دریځ

په سنګر د مظلو ما نو کـــی ولاړ یم
څکه دوی سره یو ځای خا نه ویجاړ یم
که‌دوی نښاد شی زه به هم ورسره‌نښاد شم
که نه پریږده چی غمو نو کـــی‌لتاړیم

۱٤ جوزا ٥٦ بغلان

دهجران غم

لکه څنګ چی‌گل‌تازه وی په‌شبنم‌کی
یا ددی سا تمه تازه دسترګونم‌کی
دهجران له غمه پوه په و صال‌نه‌شوم
په‌وصال کی دی کړ یږ مه په‌غم‌کی

۲۸ ثور ۱۳٥۸ کابل

زیارکښې

داځوك دی چه خو لی یی په‌تندی‌نری ـ نری دی
زیار کښې دی خوار یکښې دی چې‌ښایست ددی نړی دی

ببر، ببر سرو نه
دا ځیر ی گر یوانو نه
پو لی، پو لی لاسو نه
کړی بل ته محل جوړ خو خپله‌برخه یی کو ډی دی

سپیره ، سپیره ډا گو نه
میری شاړی دښتونه
کړی جوړ ور نه باغو نه
بزگرو ، بنوالا نو همیشه کړ ی‌خواری دی

زیار کښې دی وی آرام
دی وړ داحترام
پردوی دی وی سلام
همدوی برابر کړی دا اسبا ب‌دنیکمر غی دی

هو ښیار شه را بیدار شه
ظالم نه تو به گار شه
بیزار له هر مفت خوار شه
ځما زیار کښه ورور ه‌داناری ددی پیړی دی

۲۵ اسد ۱۳۵٤ کابل

د وطن مینه

نر خو هغه نردی چه لو گی شی‌دوطن ځینی
سر خو هغه سر دی چې فداشی‌له مدفن ځینی
وسوزی لمبه شی اوشی‌چی‌دوطن‌شهید
ښخ شی دجامو سره بی نیازه‌له‌کفن ځینی
څاڅکی یی دوینو هسی رنگـــه‌خوشبوی لری
ته به وا یی مشك دی چاراوړی‌له ختن ځینی
ځله !چی شهید چمن خـــړ وب پخپلو وینو گړ
نجو نی به یی مزار ته‌وړی گلان‌هغه چمن ځینی

پغلان ۲۸ اسد ۱۳۵٦

دز لفو تال

گلی ستاد زلفو تال دا به کله، کله‌وی
داخما پر یشا نه خیال دابه‌کله. کله‌وی
یار چه دی په څنگ کی‌وی‌هماغه‌غنیمت گنه
نبه وی داسا عت خو شحال‌دابه‌کله، کله وی
یارچی‌می‌تر خواراشی خوښی‌به‌ورسره راشی
نه به وی دایم ملال دا به کله، کله وی
حسن هم زوال لری که عقل‌نن‌مجبور مه‌ئی
شی به دی نښکلا زوال دا به‌کله، کله‌وی
راشه در قیب خبری پس لدینه‌مه منه
داد (څل) یو سو ی سوال دابه‌کله، کله‌وی

جدی ۱۳۵٤ سپین کلی

ربـاب تـه

ربابه ستا نغمو کی عجیبه‌خوندونه شته
هر تار کی دی دمینی په سوورازو نه شته
دمینی افسانی دی په‌ورو_ورو راته چیر لی
نغمی دژو ندانه دی دزړه‌تـــــاربانـد ی تړ لی
دوچ گوگل آواز کی دی څه‌رنگ‌سوزو نه شته
دزړو نو تر جمان یی د غمجنـــودز هیرو
مونس او هم ممجلس یی‌دپریشانو ددلگیرو
مرهم دهغه زړه یی چه پکی ډیردردونه شته
قاصد دخوار مین یی چی ویلـــی‌چاته نه شی
دی وزی ددیدن وی خو کتلی‌چاته‌نه‌شی
دمینی گنا هکار و سره ستارا زونه شته
ربابه ستا نغمو کی عجیبه‌خوندونه شته

۱۶ جوزا ۱۳۶۰ سپین کلی

در خسار گلو نـه

ولاړ یی نندار ی ته دبهار گلونه‌دی
جـا نا نه ښا یسته دی درخسارگلو نه‌دی
یوزه خو غمجن نه یم دا قا نون‌دمحبت دی
زخمی دچا په عشق د لاله زار گلو نه‌دی
پخپل زړه کی به سا تی خزا نه‌دامیدو نو
په‌سل ځا یه اړه که دا نارگلونه‌دی
رانځه چی‌په را تلو دی د(خـــل)ستر گی شی بینا
په‌ستر گو کی یی پیدا دانتظارگلو نه‌دی

۳۰ حمل ۱۳٦۰ سید نور محمد شاه مینه

مست اهنگونه

نا کا می مینی نه دردو نه جوړ شی
دژړه دسوز نه فر یاد و نه جوړشی
څوك چی دچا مینی کی پا تی‌راشی
ورته له زلفو زنځیرو نه جوړشی
زړه زړه غمو دی و خوړ مه
له‌څاځکو ،څا څکو دریا بو نه‌جوړشی
ستا په یوه مسکا بهار را درومی
له سرو غو تیو به گلو نه جوړشی
خوارزه یا دو نه دی په شعرشول‌بدل.
ور نه به مست ، مست آهنگونه جوړ شی

۲۵ اسد ۱۳٦۰ کابل

تړمی او ښکی

آشنا مرور شوی دی جړ ګی‌به‌ورلیږمه
دخپل نیمګړی ژوند سوی‌اسری‌به‌ورلیږمه
دزلفو په څنګل کی رانه خیاك‌ورك شوی نه‌دی
دتړ مو، تړ مو اوښکو ڤا فلی‌به‌ورلیږمه
آشنا وا یی چی مست یی‌دسروشونه و په جا مو
دخپلو و چو شو نه و تلو سـی‌به‌ورلیږمه
نادودی دی رقیبه ډیری وکړلی‌نامرده
داستاد چلو اوول ټو لی قیصی‌به‌ور لیږمه
دیار دستر ګو باز که میلمستیاکاندی قبو له
په مینه مینه زه د زړه ټو ټی‌به‌ورلیږمه
لیمه به‌ور ته فر ش کړمه آشناکه‌می رادرو می
د(څل) ددی اقرار پخی و عد ی‌به‌ور لیږمه

کابل ۱۷ جدی ٦۲

د مخکښې ترانه

مونږه مخکښان یو
دسو لی قا صدان یو

جنګ نه زمونږ ننګ دی
دسو لی پیروان یو

سو له وروړو لی غواړو
هر ځای کی دوستی غواړو

مړه دی تبعیضو نه وی
یو برا بری غواړو

سوله زمونږ شمعه
مونږ ټول یی پتنګان یو

تل دی شین آسمان وی
تودلمر په جهان وی

ورځ دی استثمار شبی
خوښی دی زیار کښان وی

ژوند ته هیله من یو
دژوند په لار روان یو

دادنیا ودانه کړی
ژوند لړه یی رو ښانه کړی

داکشتی ساحل ته ځی
خلاصه یی له طو فانه کړی

ای ددی دنیا خلکو
مونږ په دی آرمان یو

جنګ نه زمونږ ننګ دی
دسو لی پیروان یو

۱۵ میزان ٦٤ سید نور محمدشاه مینه

دکار گر دنې یوا لی ور څې په ویاړ

د ژ و ند شعار

دتنها کولاس څښتنه
ستا ژوند ون دافتخار دی
څکه وړد احترام یې
چې دژوند شعار دی کاردی
تاجوړ کړ یدی قصرو نه
په‌نړ ی چې آبادی ده
بس داستاد کار محصول دی
په‌نړی چې څه بنیادی ده
بدلو ی شی تار یخو نه
ته کار گر عظیم انسان یې
ماتو ی شی څنیڅرو نه
ته پیاوړ ی قهرمان یې
تری انکار کید لی نه شی
ستا په متو کی چې زوردی
دانړ ی به کړی بد له
ستاپه زړه کی چې کوم‌شوردی
ستا غور څنگ‌دی‌وی پیاوړی
ستا چهان دی تل ودان وی
په نړی کی دی‌وی سو له
چې خو شحا له انسا نانوی

۱۰ ثور ۱۳۵۹ سیدنور محمـــد
شاه مینه کابل.

لاخو تنې دگر یوا نه پا تی‌دی
وحشته ستاپه زړه کی‌څه‌پاتی‌دی

زاری

حمزه شنواری

مخکی مزلو نه لا اوږده پاتی‌دی
دیاربور جل ته‌ور خاته پا تی د ی
دانار ی شو نډ و شر بت بـــه‌خښمه
خوپه‌اغز نه لارو ر تله پا تـــی‌دی
دیار پیغام راوړ و نسیـــــم دسحر
دټگ‌رو یبار په مغ‌نو څه پا تی‌دی
دزړه تو تی به څان کباب کړی‌ور ته
دیارغمو نه میلما نه پا تـــی دی
زه اور قیب به سره څنگ جوړشو
لادگیلو پیتی در انه پا تی د ی
اغیار جفا دو ست به‌و فا کـــوی‌تل
له‌بدو بد له ښونه ښه‌پاتی دی
دمیخانې در وازی پـــــو ر ی شو لی
دچاپه‌مینه کی خواږه پا تـــی دی
په‌وینو رنگ شو ی جنـــاز ی‌دمینی
(وحشته ستا په زړه کی څه پاتی دی)
بې‌و خته و لی پر ی را خـــــی‌خزا نه
دخوغوټیو خنده یده پا تـــی د ی

څله ژاری خو یې قبو لـــــی نکړی
بس‌زیار تو نو ته ور تله پا تی‌دی

د سرحد ساتونکی

دوطن پو لی چی ساتی هغه سربازیمه زه
دغرو نو باز یمه زه
قوی وزر لرم او چته په پرواز یمه زه
دغرو نو با زیمه زه
زه دوطن په شنودروکی اوسیدلی یمه
زه یی په دنگو دنگو غرو کی گرځیدلی یمه
زه یی دبلبل په ژبه پوه د گل همراز یمه زه
دغرو نو باز یمه زه
ماته یی دخاورو محلو نه بسورجلو نه ښکاری
ماته یی په شاړو وښنجر ونوکی گلو نه ښکاری
دوطن مور له خو لی و تلی لوړآوازیمی زه
دغرو نو باز یمه زه
خواره واره قو مو نه ټو لیومو تی کیږو مونږه
وطنه ستا آباد یدو ته هوسیږومو نږه
اوس به جوړ یږی ښه دی پوه پوه دغه راز یمه زه
دغرو نو باز یمه زه

۱۸ عقرب ۱۳٦۰ سپین کلی

سپین سحر

زه دعمر و نو تری ته بســـیو جام یادوی
په‌سپین سحر کی را ته و لـی‌مانبام یادوی
یاره دمینی دنیا تر کهکشا نه رســـی
چی خلاص وزروی د چابیا تـــرآسما نه رسی
ته‌دما شوم په شا نی وړو کـی‌گام یادوی
په‌سپین سحر کی را ته و لـی‌مانبام یادوی
چی داد زړه زخمو نه‌ور ته‌گلونه‌شی بیا
پوره دخوار ی مینی‌ټول آرمانونه شی بیا
د(ځل) په‌سو یو هیلو گوم یـوانعام یادوی
په‌سپین سحر کی را ته و لـی‌ما نبام یادوی

۸ جدی ۱۳٦۲ کابل

ما تـی وریځی

دلمر څرك وخت کی کړ کی‌سره‌ولاړو
دکړ کی نه یی بهر خوا تـــه‌کتل
خو لحظی دسره شفق‌په نندارەو
بیاد خو لی نه یی یو نا مخا پـه‌ووتل
ای پلار جانه ! ور یخی چا دی‌ماتی کړی
ور ته گوره ور نه سر ی و ینی‌بهیږی
داد شپی چی وی د ډزو آو ازونـــه
نو دا ور یخی په هغـــو د زولگیږی؟
نو دا خلك کو ی خـــه دپاره ډزی
چی هر شی ور با ندی مات‌شی‌اوبیا مړ شی
څه په وینو کی لت پت شی‌اوخه‌سوزی
په چا اور وی لگید لی او خـــه‌خړشی
ماویل زو یه !دا سو روا لی دی‌دوریځو
په آسمان کی دلمر څرك داسی‌خاصیت دی
ویل ولی را ته درو غ‌وا یی پلارجانه
ماویل دروغ نه‌دی هر گز د ا حقیقت‌دی
خو (نجیب) هیڅ قانع نه شویه‌ویلو

که هر څومی ور ته وو یـــــل‌دلیلو نه
ویلی هر شی په ډزو با نـــدی‌ماتیږی
ځما بد را ځی دډ زو آ و ا زو نـــه
لوټ تا لایی کړ ل زمونږ کلـــی‌کورو نه
دی منحو سی جگړ ی څه میراث‌راپر یښود
دماشوم تر بیه لاشوه پســـــی‌گرانه
په مغز و کی یی جگړی هســـی‌نقش کیڅود

ا- نجیب ځما ځلور کلن ماشوم‌زوی دی او داشعردهغه دخبروکټ مټ انعکاس دی

۲۱ قوس ۱۳٦۷ سید نور محمد شاه مینه

بخملی فرشونـه

موسم دپسر لی دی په خنـــداراځه ،راځه
میلو ته د صحرا ځو یوځل بیاراځه ،راځه
فرشو نه غو ړ ید لی د بخمل په هر خوا کی
سو غات د طبعت کړه تما شـارا ځه، راځه
دهجر قافلی می میلمنی دی په لیمو کی
جرس دسباووں شه په سبـــاراځه، راځه
توخمونه دامید می زړه کـــی نوی ټو کید لی
اوبه دو صال غوا ړ ی خا مخـاراځه،راځه
عقل می فکرونو زړه می ستړی ډیری مینی کړ
فارغ می کړه له غمه مشغو لا راځه، راځه
مینی می په زړه وینی رگو نوکښی ټو پو نه کړل
مستی تلو سی شوی نن ځمـاراځه، راځه
دکال نو ی خوا نی ده مینـا نسره تر غاړی
زه ستا په انتظار یمه تنهـــا راځه، راځه
مالیار دپسر لی تازه گ لانراته راوړی

امیل به در ته جوړ کړمه لیلی راځه، راځه
تو بی می ما تی کړی پیما نی‌دی‌راته اینسی
نشه چه مستا نه شی غواړم تاراځه، راځه
دنیا می درو مان کړه په خوبوکښی ځانته جوړه
خوبو نه می رښتیا کړه ، پـــه‌رښتیا را ځه، راځه
جنت‌دی‌دشیخا نو او دو لت‌دی‌دحریص وی
ځما دپاره بس دی خپل آشنا راځه، راځه
بهاره نور بهار به همیشـــــه‌اوسیږی دلته
خزان مونږه تیر کړی لاپخـــوارا‌ځه، راځه
که ښکلی په تقسیم‌وی نوزه کله‌پری مړیږم
(ځل) خو ښ دی ددی و یش نه‌په تالا راځه ،راځه

ارو پایـی پیغلی ته

خنگ ته‌می را غلی مینه نا کی‌نجلی
خوا کښی می‌کښینا ستی‌چالاکی‌نجلی
خما دا ذهن خو شر قی ذهـن‌دی
ته لو یه شو ی ارو پا کـــی نجلی
مالو پتو کی تل ښکلا ستـــایلی
تاسره څه وکړم بی‌باکی نجلی
ما تش د ژوند تحصیل پو ښتنه‌کړ له
تا قیصی وکړ ی پاکی ، پاکـی‌نجلی
دغم لاهو په خو ښی څـــه پو هیږی
راته چی و نه وا ی کا واکـــی‌نجلی
(څل) به گیله له خپله برخته‌کوی
چی شو آشنا دلته هو ا کـــی‌نجلی

۲۲ میزان ٦٧ تاشکنك، مسکـوایرو فلوت

ترخه ډ ن ډ و نـه

پرین ده چه غرق شم
دگنهگار و اوبو
تر خود نډو نو کی
خو چه ونه وینم
دچا زمو للی هیلی
دآرما نو جناز ی
یاڅوبل شوی احساس
ددی خاور ینی نړی
دکوم مغرور فر عون
دمست ها تی دپښو
خړ و گر دونو کی

۲٤ میزان ٦۷ اوکراین هو تـل
مسکو

د ټال لمنه

بیامی په تیا رو کی ستاد خیال لمنه ونیوه
بیا یو سیلاب وړی دیو جال لمنه ونیوه
سعدالله جان بر ق

زانگی چی په زلفو کی گلو نه داوربل ستا یی
وینس به شی ناوخت چی یی د ټال لمنه ونیوه
کله رنایی دلمر ته سیـــــور ی ټینگید لای شی
سیور و په غر مو کی دد یوال لمنه ونیو ه
و څو ریداوو چغید آخر شوفر یادی بلبل
بیایی په اغزو کی دو صال لمنه ونیوه
څوك دقام په غم کی د ټنگـــــه پشان ستی شولو
چا په هو س ډوب دخط و خا ل لمنه ونیوه
تیر پسی دسر ټکول هډوفا یده نه لری
تیر پسی تر تاب دوس مها ل لمنه ونیوه
داغر موو هلی خو په لپومړیدای نه شی
څکه جل و هلو د کو لا ل لمنه ونیوه
داشو ه را خرگنده چی آشنا راته پر شو یدی
څکه یی دغچه د جنجال لمنـه ونیوه
توره اوقلم په لاس جنگیږمه تیاروسره
(څل) په ژوند جگړه کی دخوشحال لمنه ونیوه

سیدنور محمد شاه مینـــــه ۱٤ اسد ٦٢

د حماسو وطن

داد کنیشکا هیواد
داد ستر یما کور دی
ډیری حماسی لری
دامی دبا با کوردی
داد ی دگر بت بچی
چاته ایل کیدای نشی
وطن یی هم دتن تو ته
غلیم ته یی پر ینبو دا ی نشی
دلته با توران اوسی
دوی دی اتلان دجنگ
مخامخ سنگر ته خی
دی پهلوانان دجنگ

دلته خو نړی تاریخ
په‌وینو لمید لی دی
دلته دانګریز شکسـ ت
ټول جهان لید لی دی
دلته دبا با تاریخ
هر زلمی لو ستلی دی
دلته یو تور زن بچی
هری مور روز لی دی
تل په نړ یوا لو کی
خپل بیر غاو چت ساتی
داپه خپلوا کی مین
ددی خاوری عزت ساتی
ورك دی ښکیلا ګروی
مونږ دخپلوا کی سره
زیښبالګرونه بیزار یو
روان په یوه لاره یو .

سپین کلی ۲۵ر۵ر۶۲

گـیله

ما هما غسی ژڕل چی تا خنـداکړه
بی‌رحمی دی لاژړا هیره له ما کړه
دآسمان ستورو کتل را ته پـه‌یاګه
په‌امید ، امید می شپه ټو له سبا کړه
په‌کلو، کلو چی ماوه جـــوړ ه کړی
ستر ګورپ کی تاهغه دنیـــاتالاکړه

خیال

چی ښی ډکی پیما نی وا ی زه‌اوته وای
خوږ محفل دیا رانی وا ی زه اوته وای
شوم ساقی چیر ته‌و یده و ای‌هغه شپه کی
یوځو ښکلی میخا نی وا ی زه اوته وای

هیلـه

لاس تړ لی دی دزلفو په زنځیروای
سودا یی دی تل په مینه کـــی‌اسیر وای
دجهان غم نه بی غمه وی ستاغم کی
نو نظر به می آزاده هوا گیـــروای.

دجا نان غمو نه

ژړوی می دجا نان غمو نه ورو،ورو
سوزوی می دهجران غمو نهورو،ورو
لکه گل چی په دوه دری ور څی رژیږی
راپسی دی دخزان غمو نهورو،ورو
دامید کشتی می لاره کی شوه پاتی
پوبو ی یی دطو فان غمو نهوروورو
رائخه دواړه ور ته یو شو نازولـــی
لږ به کم کړود اکار وا ن غمونهورو،ورو
(څل) په سروړ ی ستا دمینی په خاطر
ددی ټول واړه جهان غمونهورو،ورو

۳۰ جوزا ٥٦ بغلان

دگلو نو نندا ری ته

دگلو نو نندارى ته له خپل يارسره څم
اوس خزان و هلى بن ته لهماليارسره څم

پانې، پانې چې په باغ کې وژيدلى وى
ماتنکى ، تنکى غو تى خدايږولېدلى وى
دبلبل دفريادى زړ گى چغـــارسره څم
اوس خزان و هلى بن ته له ماليارسره څم

څومره بنه شوه چه دنو ژوندون وار راغى
په با غو غرو نو ،رغو کنج او کنار راغى
هر کلى ته به يې ازه دخپل دلدارسره څم
بياخزان وهلى بن ته له ماليارسره څم

۷حمل ٦٢ کابل

د کیهان سفر

درو می وطنوا لو پیلو تا ن مودکیهان په لور
ستر گی دد ینار اگر ځید لی‌د افغان‌په‌لور
دابشکلی وطن راته پلرو نو را سپار لی دی
مونږ دسر په بیه هر غلیم ځینی‌ساتلی دی
اوس یی تر قی ته قلم اخلـــوکهکشان په لور
کشف به‌دی وطن کښی ډول ، ډول معدنو نه شی
جوړ به پدی خاوره کښی دکارښه تدبیرو نه شی
خیر به زمونږ رسی‌پس له‌دی‌دهرافغان په لور
ورك دی وی جنگو نه هره‌خوادی‌سره گلو نه وی
ورك دی، دی‌وطن‌نه ټو لی‌شاپی‌بنجرونه وی
اخلی قد مو نه مو زلمیـــــان‌دامتحان په‌لور
درو می و طنوا لو پیلو تان‌مودکیهان په‌لور

۱۸ اسد ٦٧ ستره محکمه کابل



پو هندوی سید نور الله (څل) دسید هاشم زوی په ۱۳۲۷هـ.ش کال کی‌د ننگر هار درودا تو په مزینه کی‌زیږ یدلی دبکلوریادوری زدکړی په‌اعلی درجه در حمن بابا پـــه لیسه کی پای ته رسو لی او په ۱۳۵۱ کال کی‌یی د څار ندو ی اکادمی څخه په‌اعلی‌درجه لسیانس واخیست .ده دخپل اوولس کلن مامور یت ددوری پنځلس کا له‌د څار ندوی په‌اکاډمی کی‌د حقوقود استاد په تو گه خدمت کړی،یو وخت دهیواد دور څپانی خبر یال اوڅو کاله د اصلی دندی ترڅنگه دځار ندوی دمجلی مر ستیال وو.

څل د۱۳٤۸ کال را پدی خواد شعر او ادب نړی ته مخه کړ یده اود هیواد په مطبو عا توکی یـــی‌شعرو نه او مقالی چاپ شوی دی. دی دافغانستان دلیکو الو دانجمن‌اودحقوق ډوها نودانجمن غړی‌دی.

جونګړی دده دشعرو نو لو مړی‌مجمو عه ده چی له چاپه راوو ته